عبدارحمن فرقا ني نیټه ۳۰/۱۰/۲۰۰۹

# ناتو د امریکا له تصرفاتو څخه اندیښمنه ده

د ناتو پیمان په کال ۱۹٤۹ م د یوه تړون په پایله کی چی د امریکا د واشنګټن په ولایت کی امضا شوو منځ ته راغي , او د خپلی مشرتابه لپاره یی د بلجیم په پلازمینه بروکسل کی د قیادت مرکز وټاکه , د ناتو د پیمان موخه په پیل کی د وارسود پیمان غړي هیوادونو اود روسیه له نظامي خوزښت څخه د لودیځی اوروپا ساتل و, دناتو پیمان ټول غړي په یوه ټاکل شوي کچه د دی پیمان نظامي اړتیاوي پوره کوي , اوپه کی حصه اخلي , د ناتو پیمان له ۲۸ غړو څخه تشکیل شوي دي لدي شمیر څخه یوه برخه غړي هیوادونه د ناتو بنیان ګذاران دي او یوه بله برخه هیوادونه ورسته ورګډ شوي دي خو له بنیان ګذاری ډلی څخه یی امریکا هم ده , هغه هیوادونه چی د نورو هیوادونو په پرتله په دی پیمان کی په لوړه کچه نظامي قوت لري هغه اګلستان, فرنسه , ایټالیه , ناروي , ډنمارك , هالند ,پرتګال, لوکسمبورګ دي , په کال۱۹۵۲کی دی د ناتو پیمان ته د ترکیه اویونان د پیوستون اعلان هم وشو, او په کال ۱٦۵۵م کی غربي المان هم د ناتو پیمان ته ورګډ شواو په کال ۱۹۹۰م المان یو ځل بیا له ختیځ المان سره د یوځاي کیدو څخه وروسته د نوي المان په څیر ناتو ته ورګډ شو , لکه څرنګه چی وړاندي یادونه وشوه په پیل کی موخه دا وه چی د روسیه له نظامي خوزښت څخه د لودیځی اوروپا ساتنه وشي , ځکه چی له دویم نړیوال جګړی څخه وروسته د ختیځی اورپا یوه پراخه برخه د روسیه تر نظامي اوسیاسي پوښښ لاندي راغلی وه , او هغه سوسیالستی تګلاره پکی پلي شوی وه چی دغربي اورپا هویت ته یولوي ګواښ ګڼل کیده , د ختیځی اورپا په یوه پراخه برخه کی د سوسیالستي نظام وحشت اوبربریت خوریدل لویدیځه اورپا دی ته مجبوره کړله چی د خپل سیاسي چاپیریال د ساتنی لپاره د ناتو پیمان د امریکا تر چت لاندي جوړ کړي .
خوکله چی د افغانستان دجګړی په ډګر کی روسیه راښکیل شوه او لودیځی اورپا هم د امریکا په مشري موکه ترلاسه کړه تر څو د روسانوله ګواښ څخه ځان وژغوري اوله روسانو څخه ځان خلاص کړي, او د روسانو سره ماتي د نړیدو په حال کی شوه , نو د ختیځی اورپا ګن شمیر هیوادونه چی د روسان له زجرناکی تګلاری څخه بیزاره و, او له هغه فقرڅخه دیر ځوریدلي و چی د کمزنزم په برلاسي کی دوي ورسره لاس ګریوان شوي و, خپله خپلواکي یی تر لاسه کړه او په چټکیا سره د لودیځی اورپا لوري ته روان شول تر څو له هغو مادي لاسته راوړنو څخه بهرمن شي چی لودیخی اورپا ورته لاره موندلي ده , نو د شرقي اورپا ګڼ شمیر هیوادونه چی د کومونزم له کړي څخه یی دوتلو نوي لاره موندلي وه , د ناتو پیمان ته د ورګډو په هڅه کی شول او یو شمیر یی د استراتیژیکو موخو په پایله کی دیر زر د ناتو غړیتوب تر لاسه کړ ,
د روسان دي امپراتوري د نړیدوڅخه وروسته د ناتو تګلاره هم د بدلیدو په حالت که شوه اوغوښتل یی چی په نړیواله کچه هغه ګواښ و څیري چی په راتلونکی کی د ناتو غړي هیوادونه کیدي شي ورسره مخ شي , چی نا څاپه د ۱۱ سپتامبر پیښه را منځ ته شوه او امریکا یی ولړزوله او د ناتو هیودادونو حسابونه یی هم له ګډوډی سره مخ کړل , پرته له یوی دقیقی څیړنه څخه د افغانستان یرغل ته تیار شول تر څو هغه د ۱۱سپتامبر مسولین چی د دوي په اند په افغانستان کی میشت و وځپي , د محدودو څو ورځو په پایله کی په افغانستان باندي یوه سرتاسري یرغل پیل شو او په افغانستان باندي دا یرغل هم په څو محدودو ورځوکی پرته له کومو ستونزو بشپړ شو , د افغانستان سیاسي واك هم په لنډه موده کی د بون د پریکړی په پایله کي د لودیځ د سیاسي مصلحت سره سم را منځ ته شو , تر څو د افغانستان بیوزله ملت ته د دیموکراسی په چوکاټ کی خپل له لاسه ورکړي حقوق ورکړي , په لومړي پړاو کی د ناتو د پیمان تر نامه لاندي نظامي یرغل په افغانستان باندي پرته له کومو ستونزو بشپړ شو , او د ناتو دپیمان غړي هیوادونه اوامریکا د خوشحالی څخه په جامو کی نه ځایدل ځکه چی د نړیٔ هغی مهمی او استراتیژیکی برخه ته چی د یرغلګرو په کنده مشهوره ده او د نړیٔ مشهوري امپراتورئ په کی نسکوری شوی دي په هغه چټکتیا ورسیدل چی دوي یی تصور نه کاوه , خو د وخت په تیریدو سره د دوي په وړاندي په افغانستان کی ستونزی رابرسیره کیدی ورځ تر بلی خونړي کیده , په افغانستان کی لودیځ پلوه حکومت هم د خلکو د غوښتنو په وړاندي پاتي راغي , هغه وعدي چی ملت ته ورکړي شوی وي پځاي نه شوي , دحکومت ناوړه تګلاره او د یرغلګرو ځواکونو خپل سره تصرفات د دي لامل شول ترڅو د مقاومت بهرني او داخلي پاڅون ورځ تر بلی پیاوړي شي آن تر دی چی په خپله د ناتو د نظامي مشرتابه په ژبه د ستونزو د شتون پخلي وشو , او په موجوده نظامي امکاناتو د مقاومت په وړاندي دریدل ناشوني اټکل شول , په افغانستان کی نظامي ناوړه وضعیت د دی لامل شو تر څو د ناتو د غړیوهیوادونو په تګلاره کی د ناتو د پیمان اوپه تیره د امریکا د خود سرانه تګلاری په اړوند د اندیښنی پاڅون راڅوندي کړي , د لودیځی اوروپا یوشمیر هیوادونه د امریکا د خود سرانه او جګړیزی تګلاری څخه چی د جورج بوش سیاسي اداری د امریکا له مخالفینو سره


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په اسلامي نړۍ کی خپله کړی وه او د مخالفین په عسکري تصفیه باندي یی ټینګار کاوه اندیښمن شوي دي, که څه هم د امریکا په سیاسي تګلاره کی د بدلون هڅی شوي دي خو نظامي تګلاره یی لا تر اوسه له همغی چینی څخه اوبیږي له کومی څخه چی د بوش د اداری په دوران کي اوبیده .
د ناتو غړي هیوادونه غواړي چی د امریکا د غلطی پالیسی په پایله کی دوي ته ګواښ متوجه نشي نو ځکه د افغانستان په هکله د نوی پالیسی غوښتونکی دي او غواړي د امریکا له مشري څخه د خلاصون لاره وګوري د مثال په ټوګه څه موده وړاندي د المان حکومت د روسان سره د یو اقتصادي اتحاد پریکړه وکړه , د مطبوعاتو په حواله د المان نوي حکومت اراده لري تر څو له المان څخه د امریکا د اتمي اسلحی د ټولولو خبري وکړي , د المان مستشاري انجیلا میرکل په برلین کی په ډاګه کړله چی پدي هکله له خپلو شریکانو سره خبري کوي , دالمان راتلونکی د بهرنیو چارو وزیر فیشر فیله پډاګه کړله چی المان غواړي د اتمي اسلحی څخه یو پاك هیواد وي اوزیاته یی کړه موږ غواړو چی پاتي اتمي اسلحي له المان څخه ټولي شي , د یادونه وړ ده چی په المان کی راتلونکی حاکم اتحاد د مسیحي اتحاد د مشری انجیلا میرکل او د خپلواك دیموکرات ګوند مشر فیشر فیله تر منځ شوي دي ,د یو شمیر سیاست پوهان په اند امریکا او ورسره د ناتو ځواکونه په افغانستان کی خپله د ویر نه ډکه خاتمه ویني , نو ځکه یو شمیر اوروپایی هیوادونه له وړاندی له دي حالت څخه د ژغورلو لپاره لاره ګوري , او د امریکا له یاري څخه د افغانستان په نظامي ډګر کی لاس په سر کیدونکی دي , دا یواځي د اوروپا د نظامی کارپوهانو نظر نه بلکی د سیاسي کارپوهانو اند هم دا دي چی د افغانستان له کړکیچن وضعیت څخه د وتلو لاره باید وڅیړل شي .
اوس د امریکا سپینه ماڼي هم د نړید و د ویره سره لاس ګریوان شوي ده , د امریکا او اورپا د تاریخ پوهانو او سیاست پوهان په اند یوویشتمه پیړي د امریکا د راپرزیدو پیړي ده دا هغه وړاندوینه ده چی د امریکا او اوروپا تاریخ پوهانو په کلکه څو کاله مخکی کړي وه , اواوس مهال د لودیځ د لیکوالانو په لیکنو اومقالو کی دا نظر ورځ په ورځ وده مومي او د جګړه په ډګر هم د همدي نظریه پخلي کیږي دیر اوروپایی سیاست پوان خو د روم د امپراتورۍ راپرزیدل او د امریکا اوسني بی ساره کړکیچونه سره پرتله کوي او هغه پایله ورته ټاکي کومه چی د روم او انګلستان امپراتورۍ ورسره مخ شوي دي خو د پام وړ مطلب خو دا دي چی د انګلستان امپراتورۍ نړیدل له افغانستان څخه پیل شوي و او همدا راز د روسانو امپراتورۍ هم په افغانستان کی نسکوره شوه او په تیښته ووتل او هغه نیمګړی امپراتوري یی له خاورو سره برابره شوه چی اوروپا یی له ګواښ سره مخ کړي وه , دیرکتونکی پدي باور دي چی د امریکا د راپرزیدلو وخت ځکه رارسیدلی دي چی په افغانستان باندي یی تیري کړي او افغانستان یی د افغان ولس اود نړیوالی ټولنه له ارادی څخه پرته په خپله یرغلګره ولکه کی راوستی دي , دا هغه ځاي دي چی د تاریخ په شهادت د نړۍ امپراتوریو ورڅخه ماته خوړلي ده , په افغانستان کی د اتو کالونو په تیریدو سره دیر داسي شواهد رابرسیره شوي دي چی د میشتو ځواکونو د ستونزمن حالت انګازي خپروي , په خپله د لودیځ د ځواکونو د مشرتابه له څرګندونو څخه ښکاریږي چی د دوي حالت په افغانستان کی ښه ندي .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ